د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

خصوصي محصلانو رياست

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسسه(ننگرهار)

محصلانو چارو معاونيت

نظم او دسپلين کمېټه

# مؤسسې د نظم او دسپلين لايحه

**( ياده د نظم او دسپلين لايحه د لوړو زده کړو وزارت د نظم او دسپلين لايحې په رڼا کې ترتيب شوې)**

**کال: ۱۴۰۲ لمريز**

بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسســې د اکاډمیکو زده کړو مرکزونه دي، چې محصـلین په تخصـص او لوړو زده کړو ســمبالوي، ترڅو وکولای شــي خپل هېواد په ټولنیز، فرهنګي او مدیریتي اړخونو کې د ســوکالۍ او پر مختګ لور ته روان کړي.

استادان او محصلین د ټولنې د ساتونکي قشر په حیث مسؤلیت لري، چې د تخصصي زده کړو تر څنګ په ټولنه کې د لوړ کردار ښکارندویان وي.

د پوهنتونونو او مؤسسو په چاپیریال کې د اکاډمیک نظم مراعتول او د لوړ اکاډمیک کردار د شاخصونو ساتنه یو له اســاســي اړتیاوو څخه شــمیرل کیږي. هر ډول هغه کړنې چې د اکاډمیک نظم اختلال، د نورو حقوق او یا امنیت زیانمنوي د منلو وړ نه دي، نو هرو مرو د یادو کړنو پر وړاندې باید جدي تدابیر ونیول شي.

بناءً پر دې؛ د لوړو زده کړو بنسټونو په چاپیریال کې لازمه ده، چې د اکاډمیک نظم نه مراعتولو او د منل شویو اصولو ماتولو پورې اړوند مسئلو د څېړلو او اړینو اجراتو لپاره لاېحې په لاندې ډول د اجراتو وړ وګرځول شي، څو له یوې لوري په پربکړو کې روڼتیا او همغږي رامنځته شي او د بل لوري په یادو شوو مسایلو کې د سلیقوي پرېکړو مخنیوی وشي.

له همدې امله د نظم نه مراعتول، عدم اطاعت او د مؤسسې په چاپیریال کې له پېژندل شوو اصولو او معیارونو څخه د ســرغړونې موضــوعات په همدې لایحه کې چې د لوړو زده کړو وزارت د نظم او دســپلین لایحې په رڼا کې ترتیب شوې ټول موارد یې روښانه کړي دي .

د نظم او دسپلین پورې اړونددغه لایحه دوه فصلونه لري، چې لومړی فصل یې "اصلي حکمونه" چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا د نظم او دســپلین لایحې اړوند احکام پکې پیشبیني شوي او دوهم فصل یې "فرعي حکمونه" دي، چې مؤسسې لخوا د ښه نظم او دسپلین راوستلو په موخه پکې احکام پیشبیني شوی دي.

### سرچینه (مبناء)

مؤســســې د نظم او دســپلین لایحه د لوړو زده کړو وزارت د ۱۳۹۶هـــ ش کال لوړو زده کړو مؤســســاتو کې د نظم او دسـپلین لایحې په رڼا کې مؤسـسه کې د نظم او دسپلین ښه مراعت کولو او ګډوډیو څخه د مخنیوي په موخه ترتیب شوی دی.

# لیکلړ

سریزه ........................................................................................ أ

سرچینه (مبناء) ............................................................................... أ

## لومړی فصل

## اصلي حکمونه

لومړی ماده: سترې سرغړونې........................................................... 1

دویمه ماده: انضباطي حکمونو مشخص کول او صلاحیت مرجع............................ 1

دریېمه ماده: د ټولنیزو اصولو ضد کړنې.................................................. 1

څلورمه ماده: مرتکب او سرغړونکي مجازات ............................................ 2

پنځمه ماده: اکاډمیکې سرغړونې ........................................................ 2

شپږمه ماده: مجازات ................................................................... 3

اوومه ماده: په پرېکړه تجدید نظر غوښتنه ................................................ 3

اتمه ماده: پرېکړې د تجدید نظر مراجع .................................................. 4

نهمه ماده: نور تخلفات ................................................................ 4

لسمه ماده: نظم او دسپلین کمېټو ایجاد او شرایط ........................................ 4

## دوهم فصل

## فرعي حکمونه

لومړی ماده: فرعي حکمونه ........................................................... 5

لومړۍ فقره:- ټولګي................................................................... 5

دوهمه فقره:- محصل.................................................................. 5

درېمه فقره:- درسي ساعت ............................................................ 5

دوهمه ماده: د اشخاصومتقابل حقوق.................................................... 6

لومړی فقره:- پر محصلینو د استاد حقوق: ................................................ 6

دوهمه فقره: پر استاد د محصلینو حقوق ........................................................................ 7
درېیمه فقره:- پر یو محصل د بل محصل حقوق........................................................................ 8
درېیمه ماده:د اشخاصو او مؤسسې متقابل حقوق ........................................................................ 9
لومړۍ فقره:- پر محصل د مؤسسې حقوق ........................................................................ 9
دوهمه فقره:- پر مؤسسې د محصل حقوق ........................................................................ 10
درېمه فقره:- د محصلینو ستونزې ........................................................................ 11
څلورمه فقره:- محصلینو د ستونزو د هواري مراجع ........................................................................ 11
څلورمه ماده: (مجازات) ........................................................................ 12
لومړۍ فقره:- نظم او دسپلین........................................................................ 12
دوهمه فقره:- مجازات ........................................................................ 12

# لومړی فصل

# اصلي حکمونه

دا حکمونه عبارت د هغو حکمونو څخه دي، چې د لوړو زده کړو وزارت د "نظم او دسپلين لايحه" بلل کيږي، د لوړو زده کړو وزارت له لوري ليکل شوې او د لوړو زده کړو ټولو دولتي او خصوصي بنسټونو په واک کې ورکړل شوي، ياده لايحه د وزارت له لوري په دريو فصلونو او لسو مادو کې راټول شوي او د لوړو زده کړو د وزير د ۱۳۸۷/۱۲/۱۷ نېټې د ۴۵۵۹ ګڼه حکم پر بنسټ نافذ شوې ده.

## لومړۍ ماده: سترې سرغړونې

**لومړي فقره:** د بډو اخيستل، اختلاس، جنسي تيرى، د خپل رسمي موقف څخه ناوړه ګټه اخيستنه، غلا او نورې جرمي کړنې، هغه کړنې دي چې مرتکب شخص يې د هيواد عدلي او قضايي ارګانونو ته د سپارلو تر څنګ د اکاډميک چاپيريال څخه په موقتي يا دايمي ډول اخراج کيدلای هم شي.

## دويمه ماده: انضباطي حکمونو مشخص کول او صلاحيت مرجع

په لومړۍ ماده کې د درج شوو انضباطي حکمونو د پېژندلو او پلي کولو واک د پوهنځيو علمي شورا او د لوړو زده کړو مؤسسې علمي شورا دی.

## درېيمه ماده: د ټولنيزو اصولو ضد کړنې

د ټولنيزو اصولو ضد کړنې لاندې موارد په بر کې نيسي.

- شخصي تعرض، جنسي ځورونه، توهين يا بې عزتي، هر ډول ملکيتونو يا ټولګټې شتمنيو ته زيان رسول، او د علمي، ټولنيز او فرهنګي مراسمو او برنامو پر وړاندې خنډ جوړېدل يا اخلالول.
- د طرزالعملونو، لايحو، قوانينو او د پوهنتونونو د مقرراتو لکه د ليليو مقرره او د امتحاناتو لايحو څخه سرغړونه يا هم د تحصيلي بنسټونو د امکاناتو او وسايلو څخه د اجازې پرته يا ناوړه ګټه اخيستنه.
- د تدريس، څېړنې، مديريت يا د اداري نظم اخلالول يا بې نظمه کول.
- ګواښ او پر نورو باندې فشار راوړل يا هر هغه کړنه چې په پوهنتونونو يا تحصيلي بنسټونو کې د نورو شخصي امنيت ګواښي يا د هغو فزيکي او رواني سلامتيا ته خطر پيښوي.
- قومي، ژبني او تربګنيز تعصباتو او يا د نفاق اور ته لمن وهل.
- د مخدره موادو، الکولي مشروبات يا د بل هر ډول خطرناکه نشه يي توکو پير، پلور او له ځان سره ساتل، د تحصيلي بنسټونو په چاپيريال يا ليليو کې قمار يا نور غير قانوني لوبې او ساعتيرى.
- د تحصيلي بنستونو په چاپيريال کې د اورلګوونکي ، چاوديدونکي او وسلو يا هر هغه شی چې د اسلحې په حيث له هغه څخه کار اخيستل کيدای شي يا هر هغه شی، چې قانوناً منع اعلان شوی وي، د ځان سره ساتل، خرڅول او خپرول.
- اخلالرونکي کړنې يا د تحصيلي بنسټونو د وظيفوي اجراتو د قانوني لاربنود څخه سر غړونه .

- د تحصیلي بنسټونو په چاپیریال کې په عمدي توګه د امنیتي مسؤلینو د لارښودونو څخه سرغړونه، په موټر چلونه کې د احتیاط څخه کار نه اخیستل او یا په ناسمو ځایونو کې د موټرو درول چېرته چې د ادارې اجازه نه وي.
- مؤسسې ته د نشې او مستۍ په حالت کې داخلېدل
- افترا، ګواښــونه، جنســي ځورونې او په دې ماده کې نور ذکر شــوې کړنې چې د ټولنیزو شــبکو له لارې د عصري او بریښنایي مخابراتي ټیکنالوژۍ په کارولو سره ترسره کیږي، د دې مادې د احکامو تابع دي، مګر که چېرې تورن (متهم) یې رد کړي، یوازې د دې مادې د احکامو مطابق د سایبري جرمونو سره د مبارزې قانون په واسطه بررسي/وارزول شي، او د هغوی حقیقت/صحت تصدیق وشي.

**څلورمه ماده: مرتکب او سرغړونکي مجازات**

د دې لایحې د لومړۍ برخې د دوهم څپرکي په درېمې مادې کې د ذکر شــوي حالاتو ســرغړونکي نظر د هغه د سرغړونې د تکرار او د عمل جدیت ته په لاندې ډول اصلاحي مجازات په نظر کې نیول شوي دي.

توصیه، اخطار، تعلیق، د موقف تنزیل، جبري تبدیلي او د دندې یا تحصیل څخه اخراج، د دغه مجازاتو پلي کول د مؤسسې د علمي شورا تر تصویب وروسته اعتبار لري.

**پنځمه ماده: اکاډمیکې سرغړونې**

- د نورو مؤلفینو د علمي او فکري اثارو څخه ناوړه ګټه اخیســـتنه لکه: د نورو د اثارو یوه برخه یا ټول د کورنۍ دندو په چمتو کولو کې په خپل نوم نومول یا د مقالو، مونوګرافونو، رســـالو، د ماســـټرۍ او دوکتورا تیزس، د درسي کتابونو او یا درسي موادو په تألیف کې پرته د مأخذ او مؤلف د نوم لیکلو څخه ګټه اخیستنه یا په خپل نوم نومول.
- د سپارل شوي علمي او اکاډمیکو څېړنو په ترڅ کې ناسم او دروغجنو احصایو معلوماتو وړاندې کول.
- د مؤلف د اجازې پرته یا د مأخذ او ســرچینې د ښـــودلو پرته د نورو د نظریو، مفکورو او تجربو څخه ګټه اخیستنه یا د عبارتونو او جملو تغیرول.
- د ازموینې په نتایجو کې هر ډول تقلب، جعل کاري یا د یو چا حق تر پښو لاندې کول، په رسمي اسنادو کې د قانون خلاف تصرف، تعدیل او یا د مضامینو په نمرو کې تغیر (ډېرول یا کمول) پرته د رسمي غوښتنو یا اجراتو، د مؤسسو د مسؤلینو په لاسلیکونو کې جعل کاري، یا هغه ټولې کړنې چې د نامشروع امتیازاتو او ګټو د ترلاسه کولو لپاره ترسره کیږي.
- د ناوړه ګټې اخیستنې په منظور د مؤسسې د اسنادو جعل، د هغو پر وړاندې غفلت، چل او فریب یا د اسنادو څخه د اجازې پرته ګټه اخیستل.
- هر هغه کړنه چې نقل محسوبیږي لکه: د نورو سره د سوالونو تبادله مخکې له ازموینې یا د ازموینې په جریان کې یا د تخنیکي وسایلو، مخابراتي وسایلو، یا نشراتي وسایلو، په پټ ډول ساتل څو نورو ته پرې نقل ورسوي یا د یو بل کس پر ځای ازموینه ورکول یا د بل کس پر ځای ازموینې ورکولو ته زمینه برابرول.
- په ازموینه کې د بل کس پر ځای ازموینې ته حاضرېدل او یا دغې چارې ته لار او زمینه مساعدول.

- د کمپیوټر یا نورو الکترونیکي وسیلو څخه په غیر قانوني ډول د دې لپاره ګټه اخیستل چې د مؤسسې پورې اړوند محرمو اسنادو ته لاسرسی وکړای شي یا د یو شخص په اړه معلومات له دغې لارې تر لاسه کړای شي.
- په پوهنتونونو، مؤسسو، ادارو یا تحصیلي بنسټونو پورې اړوند د معلوماتي تکنالوژیکي یا نور وسایلو څخه ناوړه ګټه اخیستل لکه: د اسلامي ارشاداتو او فرامینو، کلتور، فرهنګ، عرف او عاداتو سره په ټکر کې واقع سایټونو او انټرنیټ پاڼو څخه لیدنه د هغو د محتویاتو خپرول

**شپږمه ماده: مجازات**

په دې لایحه کې په پورته ذکر شوې پنځمه ماده کې د اکاډمیکو سرغړونکو/مرتکبینو مجازات په لاندې ډول وړاندې شوي دي:

۱). هغه سرغړونې چې د هېواد جزایي او نورو نافذه قوانینو له مخې جرم وګڼل شي، د دې قانون د لومړۍ او دویمې مادې د حکمونو تابع دي.

۲). هغه سرغړونې او تخلفات چې حقیقي او حکمي اشخاصو ته زیان رسوي، متضرر شخص د خسارې د جبران غوښتنې حق لري، او متخلف د هغه په جبران کولو مکلف دی. همدارنګه متصرر شخص حق لري چې د هېواد د قوانینو له حکمونو سره سم عدلي او قضایي ارګانونو ته عارض او غوښتنه وکړي.

۳). د دې مادې د دوهمې برخې په تطبیق سره، غیر جزایي سرغړونې به د قضیې په اساس، د پوهنځي د علمي شورا له خوا په لاندې حکم سره مجازات شي.

پوهنځي د علمي شورا د تصویب په اساس به متخلف د توصیه، اخطار، تبدیلي چې تادیبي بعد ولري، (جبري تبدیلي) تعلیق او امتیازاتو څخه محرومیت په مجازاتو محکومیږي، چې اړونده دوسیې او تحصیلي سوابقو کې به هم درج کیږي.

۴). متهم او متضرر شخص کولی شي چې علمي شورا د پرېکړې څخه عدم رضایت په صورت کې مؤسسې علمي شورا ته تجدید نظر لپاره عارض شي، علمي شورا مکلفیت لري چې په یوه ټاکلې موده کې موضوع ته رسیده ګي وکړي، مؤسسې علمي شورا دا واک او صلاحیت لري چې د پوهنځي علمي شورا پرېکړه تائید، تعدیل او یا هم رد کړي.

**اوومه ماده: په پرېکړه تجدید نظر غوښتنه**

متضرر کولی شي چې په لیکلې بڼه باندې مؤسسې رئیس ته خپل شکایت وړاندې کړي، مؤسسې رئیس مکلف دی چې موضوع د رسیدګۍ په موخه پوهنځي علمي شورا ته ارجاع کړي، مؤسسې علمي شورا مکلفه ده چې د ۱۵ ورځو په جریان کې ذکر شوي شکایت بررسي او ورته رسیدګي وکړي، او د موجه دلایلو په اساس خپله پرېکړه ترسره کړي.

**اتمه ماده: پرېکړې د تجدید نظر مراجع**

د تصمیم نیونکي مقام د وروستۍ پرېکړې په اړه تورن او متضرر شخص ته خبر ورکول کېږي، شوری د پرېکړې په اړه د بیا تجدید نظر عریضـه د پرېکړې د اعلان څخه نیولې تر لسـمې ورځې تر پایه پورې په خاص ډول د شـپږمې مادې درېیم جز په برخه کې مؤسـسـې ریاسـت (ریاست دفتر امریت)  ته او د نورو سرغړونو مواردو کې لوړو زده کړو وزارت دفتر ته سـپارل کېږي، د بیا کتنې مراجع مکلف دي چې حد اکثر د ۲۰ ورځو په جریان کې موضـوع بررسـي کړي او په دغه اړه تصمیم ونیسي.

**نهمه ماده: نور تخلفات**

هغه تخلفات، سـرغړونې او جرمونه چې په دې لایحه کې نه دي ذکر شـوی، لوړو زده کړو وزیر به خپل اختیار سره دغه موضوع کې تصمیم ونیسي.

**لسمه ماده: نظم او دسپلین کمېټو ایجاد او شرایط**

- لوړو زده کړو مؤسـسات مکلف دي چې پوهنځي په کچه د نظم او دسپلین بورد او پوهنتون په کچه د نظم او دسپلین کمېټې رامنځته کړي
- د ذکر شوو کمېټو او بورد غړو تعداد د (۵څخه تر ۷) تنو پورې په پام کې نیول کېږي
- د بورد او کمېټو د دندو لایحې او صلاحیتونه د مؤسسې علمي شورا له طریقه ترتیب کېږي.

## دوهم فصل

## فرعي حکمونه

دا حکمونه عبارت د هغو حکمونو څخه دي، چې د اسلام مبارک دین ارشاداتو او فرامینو، افغانستان اسلامي اِمارت د نافذه قوانینو او د لوړو زده کړو وزارت د "نظم او دسپلین لایحې" په رڼا کې سپین غر د لوړو زده کړو د موسسې داخلي وضیعت ، د ټولنې تقاضاوو، حقایقو، تجربو، کتنو، عرف او عاداتو په نظر کې نیولو سره د یادې مؤسسې د ادارې له لوري په یاده مؤسسه کې د نظم تأمینولو لپاره چمتو شوي، او د لوړو زده کړو وزارت د "نظم او دسپلین لایحې" د دوهم فصل، دریمې مادې، د لومړۍ او دوهمې فقرې پر اساس نافذ شوي دي.

- د پورته تعریفاتو په نظر کې نیولو سره، ترتیب کړای شوې لایحه د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي لوایحو څخه یوه لایحه نومول شوې ده.
- په دې لایحه کې شامل د دواړو برخو مادې قانوني حیثیت لري، او هره برخه یې د جلا او واضحه سرلیک لاندې راټول کړای شوي دي، چې د احتمالي دسپلیني ناوړه او نامطلوبه پیښو د څرګندېدو په صورت کې یادې لایحې ته رجوع کیږي او د یادې لایحې د احکامو له مخې پرېکړې صورت نیسي.

### لومړۍ ماده: فرعي حکمونه

### لومړۍ فقره:- ټولګي

هغه ځانګړی ځای دی چېرته چې محصل د یو مشخص پلان او مهالویش په شتون کې په ځانګړي او دوامداره ډول زده کړې تر سره کوي، له ټولګي څخه عبارت دی.

### دوهمه فقره:- محصل

لومړۍ حالت: د ګران هېواد افغانستان هر هغه وګړی چې د دولسم صنف څخه د فراغت صحت اسناد ولري په دې مانا چې د پوهنې وزارت له لوري یې د اسنادو تصدیق شوی وي او د پوهنتون یا مؤسسې د کانکور په ازموینه کې تر بریالي کېدو وروسته د داخلې اخیستلو رسمي پروسیجر په تکمیلولو رسماً یو ټولګي ته معرفي شوی وي د پوهنتون یا مؤسسې رسمي محصل دی.

**دوهم حالت:** هر هغه خارجي تبعه چې د افغانستان اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت په رسمي اسنادو هستوګنه لري او تعلیمي اسناد یې د افغانستان اسلامي امارت د معارف وزرات له لوري د دولسم صنف معادل منل شوي وي او د مؤسسې د کانکور په ازموینه کې تر بریالي کېدو وروسته د داخلې اخیستلو رسمي پروسیجر په تکمیلولو رسماً یو ټولګي ته معرفي شوی وي د مؤسسې رسمي محصل دی.

### دریمه فقره:- درسي ساعت

درسي ساعت عبارت د وخت د هغه بشپړ جریان څخه دی، چې په مهالویش کې ټاکل شوی وي او اړوند استاد یا د اړوند استاد په غیاب کې بل استاد د هغې په اساس صنف ته د ځانګړي پلان او د تدریسي پروسې پرمخ بیولو په موخه حاضر شي.

**دوهمه ماده: د اشخاصومتقابل حقوق**

**لومړی فقره:- پر محصلینو د استاد حقوق:**

- د اسـتاد حقوق عبارت د هغه حقوقو څخه دي چې د محصـلينو پر وړاندې يې حيثيت او مقام خوندي کوي او استاد ته اجازه ورکوي څو په ډاډمنه توګه خپل اړوند تدريسي پروسه پر مخ یوسي.
- په تدريسـي سـاعت کې د حاضـر شـوي استاد ټول حقوق خوندي دي. محصلين اړ دي چې د اړوند استاد بشپړ درناوی وکړي.
- په تدريسي ساعت کې حاضر شوی استاد د صنف مديراتور دی، دې اصل ته په کتو سره محصلين مکلف دي، چې د استاد ټولو اوامرو ته درناوی وکړي او په پلي کولو يې د هر راز ځنډ او خنډ څخه ځان وژغوري.
- د استادانو په ساعتونو کې کامله حاضري لازمه ده مګر د مستدلل عوامل پر بناء باندې.
- هيڅ محصل نه شي کولای په تدريسي ساعت کې د خنډ ، ځند او اخلال باعث وګرځي.
- که چېرته کوم محصـل د اسـتاد سـره سـتونزه لري بايد په سـوله ايز ډول د اسـتاد څخه د اجازې اخيسـتلو وروسته صنف ترک کړي.
- محصـلين حق نه لري د موضـوعاتو پر سـر يا هم د اسـتاد د يوې پرېکړې چې د صـنف د نظم جوړولو په منظور يې ابلاغ کړې وي ناندرې ووهي.
- د تدريسي ساعت په جريان کې محصلين د استاد په مقابل کې د هيڅ راز پاڅون حق نه لري.
- هيڅ محصـل نه شـي کولای د بل محصـل پر ځای دليل يا د استاد د لوري شوې پوښتنې ته ځواب ووايي مګر د استاد د اجازې ورکولو څخه وروسته.
- محصـــلين مکلف دي، چې د درس په جريان کې د هر راز (موضــوع څخه بهر) پوښـــتنو کولو څخه ځان وژغوري مګر د استاد د اجازې څخه وروسته.
- هيڅ محصـل نه شـي کولای د تدريسـي سـاعت په جريان کې خپله چوکۍ تبديل کړي، مګر د اسـتاد تر لارښونې وروسته.
- محصلين مکلف دي، چې د تدريسي ساعت تر پايه پورې د خپل منځي خبرو، کړکېچ او مباحثو څخه ځان وژغوري، مګر د استاد تر لارښوونې او اجازې وروسته.
- محصـلين مکلف دي، چې د تدريسـي سـاعت د پيل په لومړنيو پينځلس دقيقو کې صـنف ته حاضـر شـي وروسته د یاد وخت څخه د محصل صنف ته ننوتل د اړوند استاد پر پرېکړې منحصره ده.
- تدريسـي سـاعتونو په جريان کې ګرځنده تيليفونونه بايد په لړزه/خاموش کې وي. محصلين نه شي کولای چې د تدريسي ساعتونو په جريان کې تيليفون وکاروي مګر د استاد تر اجازې وروسته.
- محصـلين نه شـي کولای د صـنف يا مؤسـسـې په داخل کې د اسـتادانو سره شخصي خصومت يا تربګنۍ وپالي.
- هيڅ محصـل نه شي کولای يو استاد د خپل شخصي خصومت پر بناء تر انتقاد او نيوکې لاندې راولي مګر د هغه اصولو پر بنسټ چې د لوړو زده کړو وزارت او يا هم مؤسسې ټاکلي دي.

- محصـــلین کولای شـــي د خپل اړوند مضـــامینو په بېلا بېلو موضـــوعاتو کې علمي، څېړنيز او معلوماتي سمينارونه چمتو او ارايه کړي. البته د اړوند استاد تر څارنې او اجازې لاندې.
- محصـلین مکلف دي، چې تدریس شـوی درس زده کړي یا د زده کړې هڅه وکړي او یا هم که چېرې پر کومه موضوع پوه نه شي د استاد څخه لا وضاحت وغواړي.
- هیڅ محصـل نه شـي کولای استاد مسخره کړي او یا داسې کړنه تر سره کړي چې د استاد حيثيت او مقام ته په کې زیان ورسي.
- محصـــلین حق نه لري چې په ازموینو کې د اســـتاد پر قضـــاوت نیوکه وکړي البته که چېرې په خپلو نمرو قناعت نه لري، کولای شي د ازموینو پارچو د بیا کتنې(تجدید نظر) پالیسۍ له مخې چې د مؤسسې علمي شوار لخوا په (۸) ۱۴۰۲/۵/۳۱ گڼه جلسې د پريکړې په اساس تائید شوې، خپله پارچه بیا له سره کتنې ته وړاندې کړي .

**دوهمه فقره: پر استاد د محصلینو حقوق**

د محصـلینو حقوق عبارت د هغه حقوقو څخه دي چې د اسـتاد په مقابل کې د هغوی حیثیت خوندي کوي. محصلینو ته زمینه مســـاعدوي، ترڅو ســـالمه روزنه يې وشـــي او محصـــلینو ته اجازه ورکوي څو په ډاډمن چاپیریال کې خپله تحصیلي دوره پای ته ورسوي.

- محترم استادان مکلف دي، چې د تدريسي ساعت په جريان کې محصلينو ته د وړپېښو ستونزو د حل لازمې لارې چارې او د توان په صورت کې حل راوباسي.
- محترم اسـتادان مکلف دي، چې د هر تدریسـي سـاعت په پای کې د محصـلینو پوښتنو ته لازم وخت ځانګړی کړي.
- محترم اســتادان مکلف دي، چې د محصـــلینو پر ځای، معقول او پر دلایلو ولاړو پوښـــتنو ته په ورين تندي ځواب ووايي.
- محترم اسـتادان مکلف دي، چې د تدريسي موضوعاتو د روښانولو په موخه د بېلا بېلو وسیلو څخه کار واخلي.
- محترم استادان مکلف دي، چې تدريسي موضوعات په هر اړخيزه توگه تشريح او واضح کړي.
- محترم استادان مکلف دي، چې مضامین د هغوی د کریکولم سره سم او کریکولم لږ تر لږه اتیا (۸۰) سلنه د يو سمستر په جريان کې بشپړ کړي.
- محترم استادان مکلف دي، چې د ضرورت پر بنسټ محصلينو د وړتيا لوړولو په موخه هغوی ته د اړوند موضوعاتو سره نور اضافه معلومات چمتو کړي.
- محترم اسـتادان مکلف دي، چې په تدريسي موضوعاتو کې محصلينو ته د وړپېښو ستونزو په حل کې لازمه همکاري وکړي.
- محترم اسـتادان  مکلف دي، چې د سـمستر د پيل په لومړۍ اونۍ کې لکچر نوټ ترتيب او محصلينو ته يې ورکړي يا هم د ضرورت وړ کتابونه/مأخذونه توصیه کړي.

- محترم استادان په ازموینو کې د شفافیت او عدل په پلي کولو مکلف دي.
- محترم استادان نه شي کولای د دلیل پرته محصلین سرکوب کړي یا داسې کړنه تر سره کړي چې د یو محصل عزت نفس ته پکې زیان رسي.
- محترم استادان مکلف دي، چې د ازموینې د پایلو اعلانولو په موخه پرچې زر وګوري او لږ تر لږه یې د درې ورځو په موده کې اړوند مرجع ته د اعلانولو په موخه وسپاري.
- محترم اســتادان مکلف دي، چې محصــلینوته د هغو نمرو په ســر قناعت ورکړي کومي چې دوی یو محصل ته په ازموینو کې ورکړې وي.
- محترم استادان نه شي کولای د محصلینو سره خپل شخصي عقده او خصومت ولري او د هغوی د قضاوت بنسټ یې وګرځوي، لکه د محصلینو د میزان واحد باید هغه اصول وي کوم چې د لوړو زده کړو وزارت او یا د اړوند مؤسسې د علمي شورا له لوري ټاکلي شوې وي.
- محترم اســتادان مکلف دي، چې د محصــلینو د غوښــتنې پر بنســټ د علمي، څېړنیز او معلوماتي سیمینارونو په چمتو کولو او ارایه کولو کې لازمه همکاري او اجرات وکړي.

**دریمه فقره:- پر یو محصل د بل محصل حقوق**

پر یو محصــل د بل محصــل حقوق عبارت د هغه حقوقو څخه دي چې د دوی تر منځ اړیکې تنظیموي محصــلینو ته اجازه ورکوي ترڅو د یو بل د تحصیل د خنډ او ځند باعث ونه ګرځي. دا حقوق محصلینو ته زمینه برابروي تر څو په یو بشپړ اکاډمیک چاپېریال کې د یو بل سره د هر اړخیزې همکارۍ په فضا کې په ګډه خپل تحصیل ته ادامه ورکړي او د یو بل د حقوقو د تلف کولو باعث ونه ګرځي.

- هر محصل د بل محصل متقابل احترام باندې پابند دی.
- هیڅ محصل نه شي کولای بل محصل مسخره کړي.
- هر محصل مکلف دی، څو د بل محصل د نظر درناوی وکړي.
- د نظر بیانولو پر مهال هیڅ محصل نه شي کولای د بل محصل تکلم/خبرې قطع کړي.
- محصل مکلف دی، چې د بل محصل پر وړاندې د هر راز نژادي، مذهبي، سیاسي، جنسي او تربګني تعصب څخه ځان وساتي.
- هیڅ محصل نه شي کولای د بل محصل سره فزیکي او یا شفاهي برخورد وکړي.
- هیڅ محصل نه شي کولای چې درسي ساعت اخلال کړي.
- هیڅ محصل نه شي کولای د صنف په داخل او یا د مؤسسې په داخل کې خپل منځي ستونزې په خپل سر حل او یا د حلولو هڅه وکړي.
- هیڅ محصل حق نه لري د بل محصل پر وړاندې د اسلامیت، بشریت او افغانیت ضد لهجه وکاروي.
- هیڅ محصل حق نه لري د بل محصل په شخصیه احوالو تعرض وکړي او هغه د نیوکې لاندې راولي.
- محصل په اړیکو جوړولو کې خپلواکه دي هیڅ څوک نه شي کولای د یو محصل اړیکې تر انتقاد او نیوکې لاندې راولي او یا یې تهدید کړي.

- هیڅ محصل نه شي کولای بل محصل د هغه د چوکۍ څخه پاڅوي یا یې د پاڅولو هڅه وکړي.
- هیڅ محصل حق نه لري چې داسې کړنې تر سره کړي کومې چې د بل محصل د ځورېدو یا د هغه د تدریس د حصول اخلال باعث گرځي.
- هیڅ محصل د بل محصل د رټلو، هغه ته سپکاوي کولو او یا بد الفاظو کارولو حق نه لري.
- هیڅ محصل نه شي کولای د بل محصل د اجازې پرته د هغه پورې اړوند توکي وکاروي.
- هیڅ محصل نه شي کولای د صنف په داخل کې یا د مؤسسې په احاطه کې د یو بل محصل مزاحمت وکړي یا د هغه د ځورول باعث شي یا د هغه د شخصي چارو پر وړاندې خنډ واقع شي او یا هم هغه تهدید کړي.
- هیڅ محصل نه شي کولای د بل محصل پر ضد درواغجن شکایت وکړي. د شکایت معیار باید منطقي دلیل او پر شواهد ولاړ وي.

**درېیمه ماده:د اشخاصو او مؤسسې متقابل حقوق**

**لومړۍ فقره:- پر محصل د مؤسسې حقوق**

پر یو محصل د مؤسسې حقوق عبارت د هغه حقوقو څخه دي چې یو محصل ته د تحصیلي خدمت وړاندې کولو په بدل کې یې پر محصل لري. دغه حقوق مؤسسې ته اجازه ورکوي څو په ډاډمنه توگه خپل فعالیت ته دوام ورکړي او وړ تحصیلي خدمتونه وړاندې کړي.

- هیڅ څوک نه شي کولای چې په صنفونو کې کښني مگر دا چې د مؤسسې رسمي محصل وي.
- د صنفي لوازمو څخه ساتنه او په وړ ډول گټه اخیستنه د هر محصل وجیبه او مکلفیت دی.
- محصل نه شي کولای د رسمي تدریسي ساعتونو په جریان کې د صنف څخه د باندې د مؤسسې په احاطه کې بې ځایه وگرځي مگر د مستدلل ضرورت په اساس.
- په مؤسسه کې زینتي شیان، ونې، بوټې او هر ډول نور وسایل چې مؤسسه یې د بېلا بېلو موخو په منظور کاروي او ترانسپورتي وسایل د مؤسسې ملکیت دي، محصلین نه شي کولای یادو شیانو ته زیان ورسوي.
- د مؤسسې په داخل کې هر ډول سیاسي فعالیتونه په کلکه منع دي. هر محصل مکلف دی چې د سیاسي فعالیتونو او په مؤسسه کې د یو سیاسي گوند د نماینده په حیث د سیاسي حرکاتو او تبلیغاتو څخه په کلکه ډډه وکړي.
- هر محصل مکلف دی چې د مؤسسې په داخل کې د یو نژاد، سیاسي گوند، تربگنۍ او جنس پر ضد د تحریکاتو او تخریباتو څخه په کلکه ډډه وکړي.
- هیڅ محصل ته دا حق نشته چې د خپل شخصي خصومت له امله د مؤسسې په ساحه کې د یو بل محصل سره نانډرې ووهي یا نور محصلین دغه کار ته وپاروي.
- محصلین نه شي کولای د رخصتۍ پر مهال د موټرو په تم ځای کې بې مورده گنه گونه جوړ کړي.
- هر محصل د موسسې د اداري او تدریسي پر سونل په درناوي مکلف دی.
- هیڅ محصل نه شي کولای داسې کړنې تر سره کړي چې د مؤسسې بې احترامي یا د مؤسسې د اداري او تدریسي پرسونل بې احترامي وشي.

- هر محصل د اداري او تدريسي پرسونل سره په همکارۍ مکلف دی.
- د تفريح وخت چې په درسي مهالوېش کې پېشبيني شوي پای ته رسېدو سره سم محصلين اړ دي خپلو صنفونو ته ورشي.
- محصلين اړ دي په هغه غونډو کې برخه واخلي چې د مؤسسې لخوا د بېلا بېلو مواردو د نمانځلو په موخه چمتو کيږي.
- محصلين مکلف دي، چې د هغو اصولو بشپړ درناوی وکړي او په پلي کولو کې يې د هر راز خنډ او ځنډ څخه ځان وساتي کوم چې د مؤسسې د پرمختګ او محصلينو ته د ښه خدماتو وړاندې کولو په موخه ابلاغيږي.
- د صنف او مؤسسې په داخل کې د مسکراتو، دخانياتو، الکولي مشروباتو، نشه يي توکو او هر ډول مخدره موادو کارول، توضيع او ترويجول جرم دی. محصلين مکلف دي، د يادو شيانو څخه په کلکه ډډه وکړي.
- هيڅ محصل حق نه لري د مؤسسې په احاطه کې د ناريه، جارحه او قاتلانه الې/ وسلې سره داخل شي.
- محصلين مکلف دي، چې واجب الادا فيسونه پر وخت ورکړي. تر څو مؤسسه وکولای شي محصلينو ته معياري خدمتونه وړاندې کړي.

**دوهمه فقره:- پر مؤسسې د محصل حقوق**

پر مؤسسې د يو محصل حقوق عبارت د هغه حقوقو څخه دي او محصل ته ډاډ ورکوي چې مؤسسه محصل ته په نړيوال او ملي معيارونو برابر کوم چې د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت پېش بيني کړي دي تحصيلي خدمات وړاندې کوي.

- مؤسسه مکلفيت لري څو محصلينو ته په بشپړ ډول اکاديميک چاپېريال، په نړيوال او ملي معيارونو ولاړ تحصيلي سيستم او خدمات وړاندې کړي.
- مؤسسه مکلفيت لري څو د محصلينو ټول حقوق خوندي او د هغوي څخه دفاع وکړي.
- مؤسسه مکلفيت لري چې د محصلينو د تدريسي پروسې څخه وخت پر وخت څارنه وکړي. او شته کمښتونه او ستونزې هواري کړي.
- مؤسسه مکلفيت لري چې پرمختللی تدريسي کريکولم معرفي او پلی کړي.
- مؤسسه مکلفيت لري څو د تدريسي پروسې د ښه پلي کولو په موخه عالي کادرونه استخدام کړي.
- مؤسسه مکلفيت لري څو شفافه او عادلانه ازموينو ته زمينه برابره کړي.
- مؤسسه مکلفيت لري څو د محصلينو د ورتيا لوړولو په موخه وخت پر وخت علمي څېړنيز او معلوماتي سيمينارونو ته زمينه برابره کړي او د اړتيا وړ تخنيکي او مادي وسايل چمتو کړي.
- مؤسسه مکلفيت لري څو محصلينو ته ډاډمنه فضا برابره کړي.
- مؤسسه مکلفيت لري د محصلينو پر ځاي په منطق او دليل ولاړ او مستدلل شکايات واوري او د حل لازمي لارې چارې پيدا او حل يې کړي.
- مؤسسه مکلفيت لري محصلينو ته د څېړنيزو چارو او ورتيا لوړولو په موخه د معاصرې تکنالوژۍ، انټرنيټ او مجهز کتابتون اسانتياوې برابرې کړي.

- مؤسسه مکلیف لري د معیاري اداري په منځته راوستو کې ښه اداري پرسونل استخدام کړي.
- مؤسسه مکلفیت لري څو محصلینو ته معیاري صنفي لوازم چمتو کړي.
- مؤسسه مکلفیت لري څو وخت پر وخت د اداري د ښه والي په موخه د محصلینو پر مټ ولاړ ارزیابۍ پروسه پر لار واچوي. او په دغه مورد کې شته کمښتونه او ستونزې هوارې کړي.
- مؤسسه مکلفیت لري څو د محصلینو څېړنیز، کلتوري، فرهنګي او علمي فعالیتونو ملاتړ وکړي او په دغه مورد کې شته ستونزې هوارې او د ارتقا لپاره یې لازمې اسانتیاوې چمتو کړي.
- مؤسسه مکلفیت لري د محصلینو خپل منځي ستونزې. د محصلینو ستونزې له اداري او تدریسي پرسونل سره هوارې کړي.
- مؤسسه مکلفیت لري چې محصلینو ته لازم لوایح او مقررات پر وخت ابلاغ کړي.

**دریمه فقره:- د محصلینو ستونزې**

هر هغه شخص، وضعیت، لامل او کمښت چې د محصلینو د تدریسي پروسې د خنډ، ځنډ او اخلال باعث ګرځي ستونزه بلل کیږي.

**څلورمه فقره:- محصلینو د ستونزو د هواري مراجع**

محصلینو د ستونزو د هواري مراجع عبارت دي : د مؤسسې ریاست ، علمي چارو معاونیت، د محصلانو چارو معاونیت، اداري او مالي چارو معاونیت، پوهنځي ریاستونه، د اړوند پوهنځي ډیپارټمنټونه،د ازموینو او نتایجو انسجام آمریت، نظم دسپلین کمېټې او نورو اړوند برخې چې موضوع ور پورې مربوط کیږي.

- پورته مراجع مکلف دي، چې د محصلینو ستونزو ته د حل لارې چارې پیدا کړي او د هغوی واقعي، مستدلل او پر حقایقو ولاړو ستونزو ته لازم ځواب ووایي.
- محصلین کولای شي پورته په دریبمه ماده کې ذکر شوي موارد د مؤثقو او پر حقایقو ولاړ شکایات ولري.
- شکایات باید په لیکلي بڼه وي. شفاهي شکایت هیڅ د اعتبار وړ نه دی. یاد مراجع یوازې د لیکلي شکایاتو پر وړاندې مسولیت لري.
- شکایت باید پر اصولو ولاړ منطقي او په هغه وخت کې باید صورت ونیسي که چېرته یو لامل په دې لایحه کې ذکر شوي حقوق تلف کوي.
- د شکایاتو موضوع باید سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند وي  متن یې ساده او مستقیم د شکایت لامل په ګوته کړي.
- بې بنسټه او هغه شکایات چې اثبات ته ونه رسېدل مؤسسه او اړوند مراجع یې پر وړاندې هیڅ ډول مسولیت نه لري.

## څلورمه ماده: (مجازات)

### لومړۍ فقره:- نظم او دسپلين

ټول هغه موارد چې پورته ذکر دي د ښه خدماتو وړاندې کولو، نظم او دسپلين رامنځته کولو په موخه ليکل شوي دي.

- دغه لايحه د مؤسسې د اساس نامې ( ۷ ) مادو پر بنسټ د مؤسسې د کاري او تحصيلي فعاليتونو د منظم او نورماله پرمختگ او د احتمالي انحرافاتو او اشتباهاتو د مخنيوي په موخه چمتو شوې او پلي کيږي.
- محصلين ،استادان ،مسؤلين او ټول اداري کارمندان پدې مکلف دي، ترڅو د نظم ساتلو او دسپلين مراعتولو په موخه پورته ټولو مادو تطبيق ته په کلکه احترم ولري او په عدم پلي کولو کې يې د خنډ او ځنډ څخه ځان وساتي.
- سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې په داخل کې د نظم او دسپلين لوايح او مقررات وضع کړي دي او د نظم او دسپلين د کمېټې پر مټ يې پلي کوي.

### دوهمه فقره:- مجازات

کله چې يو محصل د پورته ذکر شوو مواردو څخه د يو يا څو مواردو څخه سرغړونه وکړي هغه ته د هغه د تخلُف د شدت سره سم د لوړو زده کړو وزارت او د مؤسسې له لوري وړ مجازات پېش بيني شوي دي، چې عبارت دي له

- توصيه
- شفاهي اخطار
- تحريري يا په ليکلې بڼه اخطار
- تعليق
- د خسارې جبرانول
- د يو يا څو مضامينو د تدريسي ساعتونو څخه محروميت د يوې اونۍ لپاره
- د يو يا څو مضامينو د تدريسي ساعتونو څخه محروميت د درې اونيو لپاره
- په موقت ډول منفکي
- په دايمي ډول منفکي
- پورته ذکر شوي مجازات د نظم او ډسپلين کمېټې صلاحيت دی او د يادې کمېټې د پريکړې پر بنسټ د پلي کېدو وړ او د پلي کولو حق يې لري.
- څلورمې مادې د دويمې فقرې شپږم ، اووم، اتم او نهم بند د نظم او ډسپلين د کمېټې د غوښتنې او د مؤسسې د عالي شورا د پريکړې پر بنسټ د پلي کېدو وړ او پلي کونکي مرجع يې د نظم او ډسپلين کمېټه ده.
- د يادې کمېټې ټولې پرېکړې په ليکلي بڼه ابلاغيږي. پرته له شفاهي اخطار څخه البته شفاهي اخطار په ژورنال کې ثبتيږي.
- د پرېکړو محرم ساتل يا علنی ابلاغ د نظم او دسپلين د کمېټې او د مؤسسې د عالي شورا صلاحيت دی.

- هغه شــخص چې مجازات ورته راجع شــوي وي حق لري څو د مجازاتو او پریکړو په اړه معلومات تر لاســه کړي.
- د نظم او دســپلین کمېټه مکلفیت لري څو مجازات شــوي شــخص ته د هغه جرم او تخلف د تخلف شــوي مادې په ذکر سره واضح کړي.
- که چېري محصل د یو داسې تخلف مرتکب شي چې مؤسسه یا یو شخص ته مالي او یا معنوي زیان رسېدلی وي. جبران یې د محصل تر غاړې دی.
- پورته ذکر شــوي ټول موارد د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ او د مؤســســې د رئیس په تائید سره د پلي کولو وړ دي.

ســپین غر د لوړو زده کړو مؤســســې، نظم او دســپلین لایحه د محصــلانو چارو معاونیت له لوري په (۱٦) پاڼو کې ترتیب او د نظم او دسـپلین په اصـلي کمېټې د ( ۲ )- ( ۹ / ۳ / ۱۴۰۲) ګڼه نېټه پروتکول کې د بحث څخه وورســته تائید شوه.

فضل الرحمن زیارمل

نظم او دسپلین اصلي کمېټې مسؤل لاسلیک

ســپین غر د لوړو زده کړو مؤســســې، نظم او دســپلین لایحه چې په (۱٦) پاڼو کې د محصــلانو چارو معاونیت له لوري ترتیب شـوې د مؤسـسـې علمي شـورا کې (۱۲)- (۱۴۰۲/۹/۱۱ ) ګڼه نېټه پروتکول کې د رایو په اکثریت سـره تائید او د نشر وروسته د تطبیق وړ ده.

د علمي شورا منشي لاسلیک او مهر

د علمي شورا مسؤل لاسلیک او مهر